III ضمیمه،
مقرره 665-1

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي
Manassas, Virginia

## د ابتدایۀ ښوونځي د مدیر لخوا د زده کوونکي په خپل ځای د پاتی کیدو خبرتیا

نیټه:____________________________

ګرانه/ګرانی____________________:

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي (PWCS) زمونږ په ټولنه کې د هر یو زده کوونکي بریالیتوب ته ژمن دی. کله چې زده کوونکي د ښوونځي کال په بهیر کی په کافي اندازه اکاډمیکی پرمختګ کولو کی ستونزه ولري، مونږ ټول باید په ګډه سره دا معلومولو کی مرسته وکړو چې د هغوي بریالیتوب ډاډمن کولو لپاره مونږ کوم ډول اقدامات ترسره کولئ شو. دا لیک تاسو ته په رسمی ډول دا خبر درکولو لپاره دئ چې ستاسو زده کوونکي، ____________، چې د ____________ ټولګي زده کوونکی دئ، د راتلونکي ښوونځي کال لپاره به بیرته په ____________ ټولګی کی پاتی کیږي.

په خپل ځای د ساتلو مشورتي کمیټي سره ما لیدلی او ستاسو د زده کوونکي اړوند ټول موجوده معلومات مې ارزولي دي. د دې ښوونیز کال په اوږدو کې د ____________________ د اکاډمیکی پرمختګ په اړه په اختیاط سره د خبرو اترو کولو وروسته، کمیټي سپارښتنه کړی چې ____________ دی په خپل اوسني ټولګي کې وساتل شي. د کمیټي لخوا د سپارښتنو د کتلو په ترڅ کی، ما پریکړه کړی ده چې دا به د ____________________ په غوره اکاډمیکی ګټه کې وي چې تاسو د کمیټي لخوا سپارښتني ومنئ او خپل زده کوونکي په خپل اوسني ټولګي کې پریږدئ.

د ____________________، والدینو/سرپرست په توګه، که تاسو غواړئ چې د دې پریکړې پر ضد د استیناف غوښتنه وکړئ، مهرباني وکړئ د دې لیک د تر لاسه کولو وروسته ماته په درېو ورځو کې په لیکلي ډول خبر راکړئ او هغه دلیلونه پکې شامل کړئ چې تاسو ولی دا ډول احساس کوئ چې ستاسو زده کوونکی باید بل ټولګي ته ترفیع ومومي. زه به د ښوونځي په پنځه رسمی ورځو کې په لیکلي ډول ځواب درکړم.

په درنښت،

____________________
د مدیر لاسلیک

____________________
د ښوونځی نوم

____________________
د تلیفون شمیره